
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۹مه | دریم کال| ۳۹۰یمه گڼه


## کتاب

۴ مخ




د سیاسي خاطرو لیکل د نړۍ د سیاسي تاریخ او فرهنگ د بډاینې یوه مهمه سرچینه بلل کېږي او مطالعه یې له اړوندو سیاسي تحولاتو سره د اشنایۍ او ناورین زیږوونکو پدیدو سره د مبارزې په برخه کې مرسته کولای شي.

# د جگړې خونړی ډگر؛

## حمدالله محب وايي په افغان جگړه کې هره ورځ پنځوس کسه قرباني کېږي



۳

### داعش ته کمپاین پر سولې څه اغېز کړی؟

۲ مخ

### د شانگهای د همکاریو سازمان په ۱۹مه غونډه کې د شي جبن پېنگ څرگندونې

۲ مخ

### ځنگه کولای شو له کاري تجربې پرته ښه دنده پیدا کړو؟

۵ مخ

## په اوو ولایتونو کې د ۳۱۲ میلیونو افغانیو په لگښت نهه پروژې پلې کېږي



د کلیو پراختیا وزارت له پرمختیایي شوراگانو سره د کونړ سیند د لس کیلومتره استنادي دېوال او د کوچیانو ژوند د ښه والي په موخه د نهو پروژو تړونونه لاسلیک کړي دي.

د کلیو پراختیا وزیر مجیب الرحمن کریمي د تړونونو د لاسلیک په مراسمو کې ویلي، چې پر دې پروژو ټول ۳۱۲ میلیونه افغانۍ لگښت راځي.

د دغه چارواکو په خبره، دغه پروژې په کونړ، کاپیسا، لوگر، خوست، جوزجان، کندهار او زابل ولایتونو کې پلې کېږي.

کریمي ویلي، په پام کې ده چې د کونړ سیند پر غاړو د څه باندې یو میلیارد افغانیو په لگښت ۴۰ کیلومتره استنادي دېوال جوړ شي، چې ورسره به ۳۶۰۰ هکتاره شاړه ځمکه پر کرنیزې هغې بدله شي.

نوموړي زیاته کړې چې د نننۍ تړون له مخې به د شاوخوا ۲۹۰ میلیونو افغانیو په لگښت د اوس لپاره لس کیلومتره استنادي دېوال جوړ شي او پاتې نور به یې راتلونکی کال جوړ کړل شي.

## وکیلان: ځینو کړیو او وکیلانو ولسي جرگه انحصار کړې ده

د ولسي جرگې د تېرې ورځې په ناسته کې هم د ریاست پر سر راپورته شوې ستونزه حل نه شوه.

د ولسي جرگې غړي وايي، ځینو کمېشنکارو وکیلانو جرگه یرغمل کړې ده او نه پرېږدي چې یاده ستونزه حل شي.

د دغې جرگې غړو پرېکړه کړې، چې نن (چهارشنبې) ورځ د سري رایې اچونې له لارې یاده ستونزه حل کړي.

وکیلان او د موقت اداري هیئت غړي وايي، ځینو وکیلانو جرگه انحصار کړې او ځینې کمېشنکاره وکیلان بیا د قضیې یو لوري ته لاسلیکونه کوي او بل ته شین کارت پورته کوي.

د دغې جرگې غړی سیداحمد خادم وايي:

«ځینو وکیلانو موږ په تالار کې په جنجال اخته کړي یو، دوی هر طرف ته خپلې معاملې کوي او د معاملو لپاره یې ښه زمینه مساعده ده».

د جرگې غړو هوکړه کړې چې د سري رایې اچونې له لارې د ولسي جرگې د ریاست پر سر راپورته شوې ستونزه حل کړي، خو د تالار دننه د نصاب بشپړوالي له امله دغه چاره نن ته پاتې او د جرگې ناسته بې پایلې وه.

د ولسي جرگې د غړو ترمنځ د توافق له مخې به نن په ولسي جرگه کې د رایې اچونې لپاره صندوقونه اېښودل کېږي او د یوې رایې سرنوشت د ټاکنو له لارې معلومېږي، چې میر رحمان رحماني رییس دی او که ټاکنې بل پړاو ته ځي.

## د غبرگولي له لومړۍ وروسته د ولسمشر کار او گمارنې ناقانونه دي



۳ مخ

## مقامات هندی: روابط تجارتی میان افغانستان و هند از مسیر چابهار بیشتر تقویت خواهد شد



یک مقام هندی گفته است که افغانستان بعد از پاکستان، روابط تجارتی بیشتر با هند دارد و بندر چابهار، وسیلۀ خوب برای تقویت و دوام روابط تجاری میان افغانستان و هند است.

دیباسیش ملک (Debasish Mallik) معاون بانک صادرات و واردات هند، در شهر ممبیی طی دیدار با خبرنگاران افغان حضور یافته در هند، اذعان کرده است که این بانک در چند سال گذشته، با حکومت افغانستان حدود هفت میلیون دالر امریکایی مساعدت نموده است.

موصوف افزوده است که هند روابط بیشتر تجاری با امریکا و چین دارد؛ اما در حوزه سازمان سارک، افغانستان پنجمین شریک تجارتی آن کشور است.

نامبرده افزوده است که افغانستان و هند روابط دیرینه سیاسی، اجتماعی و اقتصادی با هم دارند و بندر تجارتی چابهار ایران، سبب تقویت بیشتر این روابط خواهد شد.

موصوف با در نظر داشت روابط میان ایران و امریکا گفته است: «هند در بندر تجارتی چابهار سرمایه گذاری هنگفت نموده و خوشبختانه از تحریم‌های اقتصادی اعمال شدۀ امریکا علیه ایران نیز مستثنا است».

به قول وی، هند به محصولات زراعتی نیز نیاز دارد و تاجران افغان می‌توانند محصولات متذکره را به هند صادر کنند.


Shigal English Academy




Easy English learning

+93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

## دریـــځ

### داعش ته کمپاین پر سولې څه اغېز کړی؟

له وسله والو طالبانو سره د سولې له خبرو وروسته، د داعش فعالیتونو یو ځل بیا زور اخیستی او دغه راز امریکایي چارواکي پرله پسې د داعش د ګواښونو په اړه خبرې کوي. تازه د مشرانو جرګې ځینو غړو ویلي چې داعش په جوزجان، سرپل او فاریاب کې فعال شوی او خپلو لیکو ته د جنګیالیو پر جلبولو کار کوي. تر دې وړاندې امریکایي مهمو نظامي چارواکو ویلي وو، چې داعش په افغانستان کې فعال دی او هڅه کوي چې د افغانستان له خاورې په استفادې سره، پر امریکا برید وکړي. د امریکایي چارواکو له خوا دغو څرګندونو ته طالبانو هم غبرګون ښودلی او دا یې داعش ته کمپاین وباله. داسې ویل کېږي چې په شپږم پړاو خبرو کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ د داعش په تړاو تونده خبرې شوې دي.

له طالبانو سره د سولې په خبرو کې بیا بیا طالبانو ته دا روحیه ورکول کېږي، چې ګواکې له تاسې وروسته به داعش جګړه غځوي. د خلیلزاد دا خبره چې له طالبانو سره سوله به جګړه ختمه نه کړي، همدا مانا لري چې داعش به جګړه غځوي او تر یوه بریده به د طالبانو ځای نیسي. کله چې امریکایي چارواکي د داعش خطر لوی ګڼي او بیا بیا یې په اړه څرګندونې کوي، نو طبیعي ده چې طالبان به همدا پیغام اخلي چې امریکا غواړي د دوی ځای داعش ته ورکړي او جګړه وغځوي. په کونړ او د افغانستان په شمال کې د داعش تحرکات هم داسې دي چې له سولې وروسته د جګړې لپاره تیاری ترې ښکاري. څو ورځې وړاندې د ولسمشر لومړي مرستیال هم ویل چې داعش په شمال کې فعالیتونه پیل کړي او له طالبانو سره د سولې د خبرو له بریالي کېدو وروسته به دوی جګړه پیلوي.

دغه حالت پر طالبانو اغېز کړی او اوس احساسوي چې امریکا نه غواړي افغانستان ته سوله او ثبات را وګرځي. طالبان اوس درک کوي چې امریکا د سولې په خبرو کې رښتینې نه ده، بلکې غواړي له دوی سره فریب او چل وکړي. د داعش په تړاو د امریکایي نظامیانو څرګندونې او تر دې وړاندې له داعش سره د امریکا د مرستې په اړه خبرونو، رپوټونو او معلوماتو دا دریځ پیاوړی کړی، چې امریکا غواړي له طالبانو سره سوله وکړي، خو جګړه د داعش پر مټ وغځوي. همدا دریځ او بدلون د دې سبب شوی چې طالبان په خبرو کې د داعش موضوع را ګډه کړي او له امریکایي چارواکو سره پرې خبرې وکړي.

اوس به طالبان په اووم پړاو کې یو ځل بیا له زلمي خلیلزاد سره د داعش بحث را پورته کوي. طالبان غواړي چې د سولې له توافق وروسته او له عملي پیل وړاندې داعش په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي. دا هغه څه دي چې طالبان به یې په جدیت مطرح کړي. که طالبان له داعش څخه ډاډمن نه شي، نو سخته ده چې له امریکا سره به د سولې تر عملي ګامونو ولاړ شي. د طالبانو دا دریځ سم دی او د افغانستان خلکو ته هم پکار ده چې د داعش په تړاو حساس و اوسي او پرې نه ږدي چې داعش د جګړې د غځولو لپاره وکارول شي.

# د شانګهای د همکاریو سازمان په ۱۹مه غونډه کې د شي جین پینګ څرګندونې

دا زما لپاره ډېر د خوښۍ ځای دی چې د شانګهای د همکاریو د سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو شورا په غونډه کې د بیشکېک په ښکلي ښار کې ګډون کوم. اجازه راکړئ چې پیل له قرغېزستان څخه، چې زموږ کوربه دی، پر منني وکړم چې د دې ناستې لپاره یې عالي چمتووالی نیولی او په مفکرانه ډول یې تنظیم کړې ده.

د شانګهای د همکاریو سازمان د چینګداو له غونډې راهیسې ښه پرمختګ کړی دی. د پراختیا، امنیت، همکارۍ، مدنیت او نړیوالې حکومتولۍ په برخه کې وړاندیزونه، چې چین د چینګداو په ناسته کې کړي وو، د ټولو اړخونو له تاوده هرکلي سره مخ شوي او د همکاریو لپاره د شانګهای سازمان د لرلید برخه ګرځېدلي دي. د شانګهای د همکاریو د سازمان غړو، چې د (شانګهای روحیه) او د رهبرانو اجماع یې رهبري کوي، په بېلابېلو برخو کې همکارۍ پراخې کړې او د پیل له یوې نوې نقطې یې د سازمان د پرمختګ په برخه کې نوې لاسته راوړنې لري.

په نړیوال وضعیت کې له سترو بدلونونو سره سره، سوله، پرمختګ او د دوه اړخیزې ګټې لپاره همکاري زموږ د وخت شاته نه ګرځېدونکې بهیر دی. لکه د چین په کلاسیکو ادبیاتو کې چې ویل شوي (هغوی چې کرنه کوي د موسمونو بدلون څاري، هغوی چې حکومت کوي د نړۍ بدلونونه تعقیبوي). موږ اړیو چې د څو قطبي کېدو او اقتصادي نړیوالتوب د خورا ارزښتمن بهیر په اړه بنسټیز پوهاوی وساتو، د (شانګهای د روحیې) له حکمت څخه انګېزه تر لاسه کړو او له یووالي او همکارۍ څخه د ځواکمنتیا د تر لاسه کولو په لټه کې و اوسو، څو په ګډه د شانګهای داسې سره تړلې ټولنه رامنځته کړو، چې ګډه راتلونکې ولري.

لومړی؛ موږ باید له شانګهای سازمان څخه د یووالي او دوه اړخیز باور یوه بېلګه جوړه کړو. شانګهای پیاوړی پرمختګ کړی او د سیمه ییز امنیت، ثبات او سوکالۍ په برخه کې یو مهم او رغنده ځواک ګرځېدلی دی. د بریالیتوب اصلي راز یې د (شانګهای په روحیه) کې نغښتی، چې د یووالي او دوه اړخیز باور د دوامدارې پراختیا غوښتونکې ده. د شانګهای د غړو هېوادونو د خلکو غوښتنې پوره کول زموږ مسوولیت دی او موږ باید ګډ فکر او کار وکړو، چې د ګډ هدف د تر لاسه کولو لپاره اړتیا وړ تحرک رامنځته کړو. د (شانهګای په روحیه) کې د شانګهای د همکاریو د سازمان اصلي ارزښتونه او ګډ لید شامل دي. دغه روحیه باید وساتل او د شرایطو له پراختیا او د سازمان له پرمختګ سره سمه تازه کړل شي. موږ باید هغو اهدافو او اصولو ته ژمن پاتې شو، چې د شانګهای د همکاریو د سازمان په منشور، د اوږدمهال غوره ګاونډیتوب په تړون او د ملګرۍ او همکارۍ په تړون کې راغلي، دوه اړخیز سیاسي باور باید پیاوړی کړو، د یو بل غوره ملاتړ وکړو، د ګټو ادغام پراخ کړو او د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو د لا پراختیا لپاره مناسب شرایط رامنځته کړو.

دویم؛ موږ باید د شانګهای له سازمان څخه د ګډ امنیت یوه بېلګه جوړه کړو. په تېرو کلونو کې د ګډ امنیت او شریکې راتلونکې د لید پر مټ د شانګهای سازمان غړو هېوادونو د امنیت په برخه کې عملي او په لویه کچه اغېزناکه همکاري رامنځته کړې او په ټوله کې یې د سیمې امنیت ډاډمن کړی دی. له دې کبله چې ترهګري، افراطیت او نورو ګواښونو له ننګونو سره مخ کړي یو، موږ ټول باید ګډ عمل وکړو او په ځواکمنو اقدماتو سره خپلې ګډې ننګونې له منځه یوسو.

موږ باید د ګډ، جامع، تعاوني او دوامداره امنیت په لټه کې واوسو. باید د امنیتي همکاریو لپاره قانوني بنسټ ته نوره پراختیا هم ورکړو. پېچلو حالاتو ته د شانګهای سازمان د غبرګون د وړتیا د پراختیا په موخه باید د معلوماتو شریکول، ګډ عملیات او د سایبر د قانون پلي کول پیل کړو. موږ باید د ترهګرۍ، بېلتونپالنې او افراطیت خلاف څو اړخیزو تګلارو ته مخه کړو او د ترهګرو او افراطي ځواکونو د بیا پراختیا مخه ونیسو. په داسې حال کې چې له تندلارۍ سره د مبارزې په برخه کې د شانګهای سازمان د کنوانسیون پلي کېدل پیلېږي، موږ باید د غیرې افراطي کولو لپاره همکاري لا پراخه کړو چې د افراطي ایډیالوژۍ د پراختیا مخه ونیول شي. افغانستان د شانګهای د سازمان د ډېرى غړو هېوادونو ګاونډی او د سازمان یو مهم څارونکی غړی دی. موږ له نږدې د افغانستان پرمختګونه څارو. موږ د افغانستان له خلکو سره چې له جګړې او کړکېچ څخه کړېږي، همدردي لرو. د شانګهای سازمان د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې او پخلاینې د بهیر ټینګ ملاتړ کوي. موږ به د افغانستان لپاره د شانګهای سازمان د تماس د ډلې له ټولو ظرفیتونو ګټه پورته کړو او په بېلابېلو برخو کې به همکارۍ لا پراخې کړو، څو افغانستان ته د سولې، پخلاینې، ثبات او پرمختګ پر ژر راستنېدو کې رغنده رول ولوبوو. چین به د هغه څه تر سره کولو ته دوام ورکړي، چې له افغانستان سره د سولې او پخلاینې په برخه کې مرسته کولی شي.

درېیم؛ موږ باید له شانګهای سازمان څخه دواړو لورو ته د ګټورې همکارۍ مثال جوړ کړو. د شانګهای سازمان غړو هېوادونو په ټوله کې د پام وړ پرمختګ کړی او دغه پرمختګ د نړۍ په اقتصاد کې د دې سیمې د ونډې په دوامداره زیاتېدو او د نړۍ له اقتصادي ودې سره د هغې په مرسته کې ثابت شوی دی. زموږ د سیمې بې ساري امتیازات لکه غني طبیعي وړتیا، ستر مارکېټ او د ساینس او ټکنالوژۍ په برخه کې د نوښت وړتیا، د پرمختګ لپاره محرک ځواک او د همکارۍ لپاره روښانه لرلیدونه وړاندې کوي. موږ ته پکار ده چې له دغه تحرک څخه استفاده او د سیمې د ګډ پرمختګ لپاره هڅه وکړو.

موږ باید د سوداګرۍ د څو اړخیز سیستم ملاتړ وکړو، پرانیستی نړیوال اقتصاد رامنځته کړو، د سوداګرۍ او پانګونې د آزادۍ او اسانتیا لپاره د سازماني جوړښتونو رامنځته کولو ته کار وکړو او له دغه ډول همکارۍ او د شریکولو له پلټفورمونو څخه پوره ګټه پورته کړو، لکه د چین د وارداتو نړیوال نندارتون، څو په سیمه کې لا ډېره اقتصادي پرانیسته، تبادله او پیوستون ترلاسه کړو. دا ډېره مهمه ده چې موږ د نړیوالې همکارۍ لپاره د یو کمربند او یوې لارې د نړیوالو همکاریو د دویم کنفرانس پایلو ته په جدیت ژمن پاتې شو او د سیمې د هېوادونو له ځانګړو ځواکمنتیاوو څخه پوره کټه پورته کړو، څو د یو کمربند یوې لارې نوښت په سمه بڼه د هېوادونو د پراختیا له ستراتیژیو او د ایرو ایژه د اقتصادي یووالي په څېر د سیمه ییزو همکاریو له نوښتونو سره همغږی شي. موږ (د سړک د نړیوال ټرانسپورټ د اسانتیا د ګډ کمېسیون) او نورو اړوندو میکانیزمونو مرستې ته اړتیا لرو چې رېل پټلۍ، لویې لارې، د ګاز او تېلو نللیکې جوړې کړو او په دې ډول بشپړ اتصال ته ورسېږو.

موږ اړتیا لرو چې د نوښتګر پرمختګ په لټه کې و اوسو او په نویو برخو لکه ډیجیټال اقتصاد، برېښنایي سوداګرۍ، مصنوعي ځیرکتیا او سترو معلوماتو کې همکارۍ ته پراختیا ورکړو. چین به خوشاله وي چې په شاان شي ولایت کې د کرنې او ټکنالوژۍ د روزنې لپاره د شانګهای سازمان د نندارې یو بنسټ جوړ کړي، څو د سیمې له نورو هېوادونو سره د معاصرې کرنې په برخه کې همکاري پیاوړې شي.

څلورم؛ موږ باید له شنګهای سازمان څخه د جامعوالي او دوه اړخیزې زده کړې مثال جوړ کړو. زموږ سیمه د ډېرو پخوانیو مدنیتونو کور دی، چېرته چې بېلابېلو ملتونو، کلتورونو او ادیانو ګډ ژوند کړی او له یو بل څخه یې ځواک ترلاسه کړی دی. موږ باید د مدنیتونو دا تنوع د سیمې د یوې ارزښتمنې پانګې په توګه ونمانځو او د مدنیتونو د ټکر پر وړاندې ودرېږو. موږ اړیو چې د خپلو خلکو ترمنځ د باثباته ملګرۍ د رامنځته کولو او د خپلو هېوادونو د ګډ پرمختګ لپاره د پرانیستې، جامعوالي او دوه اړخیزې زده کړې ملاتړ وکړو.

موږ باید د کلتور، زده کړو، ګرځندوی، لوبو او رسنیو په برخه کې همکارۍ نورې هم ژورې او د ښځو، ځوانانو او نورو پاړکو ترمنځ تبادله پیاوړې کړو، څو د خلکو ښکېلتیا او هغوی ته د دغو پروګرامونو د ګټې کچه لا زیاته شي. تېره میاشت (د طبي نوښت او همکارۍ نړیوال کنفرانس) په بریالیتوب د چین د ګوانګ شي په فانګ چنګ ګانګ ښار کې تر سره شو او د شانګهای سازمان د روغتیایي بنسټونو استازي، چې په کنفرانس کې یې ګډون کړی و، د همکارۍ لپاره په لویه کچه توافق ته ورسېدل. موږ دغه راز په دغه ښار کې د (International Medical Opening-up Pilot Zone) د رامنځته کولو ملاتړ کوو، څو د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د روغتیا په برخه کې همکاري لا پراخه شي. چین به خوشاله شي چې په مناسب وخت د سنتي درملو په اړه د یوې ناستې کوربتوب وکړي، څو د سنتي درملو پر مټ د عامې روغتیا او طبي خدماتو په برخه کې پرمختګ رامنځته شي. تېر کال د روسیې (Chelyabinsk) او د چین (Chongqing) په بریالیتوب د شانګهای سازمان د سیمې د مشرانو لومړۍ او دویمه ناسته تر سره کړې. موږ دې ته اړتیا لرو چې د دې ناستې له لوري تصویب شوي اسناد، چې تر ملي په ټیټه کچه د همکاریو په اړه دي، په جدیت پلي شي او سیمه ییز حکومتونه او خصوصي سکټور سره منسجم شي، څو تر ملي په ټیټه کچه همکاري زموږ د خلکو ترمنځ د همکارۍ نوې مهمه برخه شي.

زیاتېدونکو نړیوالو ننګونو ته په کتو، دا حتمي ده چې موږ باید له خپلو نړیوالو مسوولیتونو سره سم ژوند وکړو، په لویه کچه د مشورو پر بنسټ د نړیوالې حکومتولۍ لید ته ژمن پاتې شو، مرستې یو ځای او ګټې شریکې کړو، همغږي او همکاري پیل کړو. دا زموږ لپاره ضروري ده چې د یوه داسې نړیوال سیستم ملاتړ وکړو، چې ملګري ملتونه یې عمده برخه ده، مولټیلټرلېزم او آزاده سوداګري خپره کړو او نړیوال نظم لا ډېر عادلانه او مساویانه کړو. د شانګهای د همکاریو سازمان اړتیا لري چې د خپلې همکارۍ شبکه پراخه کړي، د څارونکو غړو او مذاکره کوونکو ملګرو له لوري په همکارۍ کې ګډون وهڅوي، له ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو او سیمه ییزو همکاریو سره تبادله پیاوړې کړي، په نړیوالو او سیمه ییزو مسایلو کې لا ډېر فعال رول ادا کړي او په ګډه د نړۍ له دوامداره سولې او سوکالۍ سره مرسته وکړي.

چین قرغېزستان ته چې د شانګهای سازمان د مشرۍ موده یې پای ته رسېږي، په بریالیتوب د دې ناستې د کوربتوب او ولسمشر ولادیمیر پوتین ته د شانګهای سازمان د مشرانو د شورا د مشرۍ له کبله مبارکي وایي. چین به د سازمان له نورو ټولو غړو سره کار وکړي، چې د کار تر سره کولو لپاره د روسیې بشپړ ملاتړ وشي.

لکه یو قرغېزي معقوله چې وایي: «له یووالي څخه زموږ د ژغورنې ځواک رامنځته کېږي». راځئ چې د (شانګهای له روحیې) سره سم کار وکړو، تمرکز ته دوام ورکړو او د سازمان د لا ډېرې روښانه راتلونکې لپاره کوټلي ګامونه پورته کړو.



# د جګړې خونړۍ ډګر؛

## حمدالله محب وايي په افغان جګړه کې هره ورځ پنځوس کسه قرباني کېږي



افغان جګړه ورځ په ورځ خونړۍ کېږي، خو د سولې روانې هڅې د دغه جګړې پر کمولو بې اغېزې دي. تازه د افغان حکومت یوه لوړپوړي چارواکي د خونړۍ جګړې د تلفاتو په اړه نوې څرګندونې کړې دي. پرون په مسکو کې د اوفای امنیتي غونډه وه. په دې غونډه کې د افغانستان او سیمې د هېوادونو مهمو امنیتي چارواکو ګډون کړی و. د افغانستان په استازیتوب د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب د دغه غونډې ګډونوال و. محب غونډې ته د خبرو پر مهال وویل، چې هره ورځ نږدې پنځوس کسان د ترهګرۍ پر وړاندې د روانې مبارزې په لړ کې قرباني ورکوي.

د محب په خبره، افغانستان نه یوازې په سیمه کې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په لومړۍ برخه کې دی، بلکې دا هڅه هم کوي چې د سیمې د هېوادونو امنیت خوندي وي او له ټولو سره په پوره همکارۍ شته تهدیدونه له منځه یوسي. نوموړي ویلي: ((افغانستان د جګړې په لومړۍ کرښه کې دی، په سیمه کې د ترهګرۍ د ځپلو لپاره هره ورځ پنځوس کسه قرباني کېږي. خو دا ثابتوي چې د جګړې لومړۍ کرښه ده او د سیمې هېوادونه باید پوره همکاري وکړي)).

د اوفای په امنیتي غونډه کې حمدالله محب ویلي، چې افغانستان له نړیوالې ترهګرۍ سره د روانې مبارزې په لومړۍ کرښه کې دی او له همدې امله د تلفاتو کچه هم دومره لوړه ده. د محب په خبره، په سیمه کې له ترهګرو سره د یو ځای کېدو لپاره زړګونه تنه، په ناقانونه توګه له پولو اوړي را اوړي، روزنهویني او افغان وګړي په نښه کوي، نو اړتیا ده چې د سیمې هېوادونه د دغه تګ راتګ د مخنیوي لپاره له افغانستان سره همکاري وکړي. هغه دا نه ده په ډاګه کړې چې ترهګر پر کومو پولو اوړي را اوړي، خو تر ډېره ویل کېږي چې ترهګرې ډلې په پاکستان کې روزل کېږي او تر هغه وروسته افغانستان ته راځي او په ورانکاره فعالیتونو لاس پورې کوي.

د ملي امنیت شورا سلاکار نشه یي توکي د ترهګرۍ د تمویل تر ټولو ستره سرچینه بللې او زیاته کړې یې ده، چې ترهګر او د نشه یي توکو قاچاق کوونکي د یوې سیکې دوه مخه دي، نشه یي توکي د ترهګرۍ د عوایدو اصلي سرچینه پېژندل کېږي چې کلنۍ ارزښت یې میلیاردونو ډالرو ته رسېږي او له دې پدېدې سره مبارزه سیمه ییزې همکارۍ او قوي هوډ ته اړتیا لري. محب دغه راز له مالي جرمونو سره مبارزه هم د سیمه ییزو هېوادونو د امنیت د تامین لپاره تر ټولو مهمه چاره بللې ده. نوموړي ویلي: ((د پیسو له سپینولو سره مبارزه، د نه ثبت شویو حوالو د سیسټمونو له لارې د ناقانونه پیسو معاملې او په سیمه کې د خیریه اصطلاح له لارې د ترهګرو د تمویل لپاره فعالیتونه، هغه موارد دي چې باید څارنه وربانديې ډېره شي)).

نوموړي پر پولو د امنیت د تامین لپاره د اړینې همکارۍ پر نشتون هم خبرې کړې دي. د نوموړي په خبره، د سیمې د هېوادونو ترمنځ د امنیت د تامین لپاره تر دې دمه همکاري پیکه ده او په سرحدي سیمو کې پراخې همغږۍ ته اړتیا لیدل کېږي. محب ویلي: ((په سیمه کې د پولو د مدیریت په برخه کې ګډې همکارۍ، په ټاکلي وخت کې د معلوماتو شریکول او همدا راز له ګاونډیو سره د مبارزې لپاره د وړ او ګټورې ټکنالوژۍ کارول هم اړین او مهم دي)).

په افغانستان کې د روانې جګړې د ډېرو تلفاتو او سیمه ییزو همکاریو د کموالي په اړه داسې مهال څرګندونې کېږي، چې له طالبانو سره د سولې خبرې هم روانې دي. دغه ډلې د خبرو د مهمو پړاوونو د پیل لپاره د بهرنیو ځواکونو د وتلو د مهالوېش اعلان مخکینی شرط بللی دی. امریکا بیا وايي چې یا به پر ټولو مواردو هوکړه کېږي او یا پر هېڅ شي هوکړه نه کېږي.

## لویه څارنوالي: د ټاکنیزو کمېسیونونو د پخوانیو غړیو دوسیې بلې محکمې ته لېږو

سترې محکمې د ټاکنیزو کمېسیونونو د پخوانیو غړو دوسیې لویې څارنوالۍ ته مستردې کړې دي.

بلخوا لویې څارنوالۍ ویلي، ډېر ژر به پرېکړه وکړي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د پخوانیو غړو دوسیې کومې چې د سترې محکمې له خوا مستردې شوې، د ارزونې لپاره کومې بلې محکمې ته واستوي.

د دغې ادارې ویاند جمشېد رسولي ازادي راډیو ته ویلي: «محکمې په دې اړه خپل ځان بې صلاحیته ګڼلی او دوسیه باید اړوندې محکمې ته ولېږل شي. کله چې دغه دوسیه لویې څارنوالۍ ته ولېږل شوه، څارنوالۍ په دې هڅه کې شوه چې دویمې محکمې ته یې وپېژني، د استیناف د محکمې او د قانون د مسودې په اساس ډېر ژر اړوندې محکمې ته راجع کېږي».

دا په داسې حال کې ده چې لویې څارنوالۍ د روان کال د غویي په ۲۹مه ویلي وو، چې د دواړو کمېسیونونو د ۱۲ غړو او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشا او معلوماتي ټکنالوژۍ د رییسانو په ګډون یې د ۴۹۵ کسانو دوسیې د ولسي جرګې په ټاکنو کې د سرغړونې او فساد له امله سترې محکمې ته لېږلې دي.

په پاڼو کې تزویر، له صلاحیتونو ناوړه ګټه اخیستنه، د رایو کمول او ډېرول، مالي فساد او داسې نور هغه موارد دي چې د رسولي په خبره، دغه کسان یې پر کړنو د لویې څارنوالۍ له خوا مسوول ګڼل شوي دي.

بلخوا یوې حکومتي سرچینې ویلي، سترې محکمې په تېره یوه میاشت کې دغه دوسیې لومړی د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې ابتدایي محکمې ته لېږلې، خو یادې محکمې ویلي چې دغه دوسیې په ټاکنیزو جرایمو پورې اړه لري او ارزول یې د دوی صلاحیت نه دی.

په ورته وخت کې د ټاکنیزو کمېسیونونو پخواني غړي وايي، د دوی پر وړاندې د لویې څارنوالۍ پرېکړه عادلانه نه وه.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون پخوانی غړی غلام دستګیر هدایت وايي، د کمېسیونونو غړي د اعتراض کوونکو د ناسمو ادعاګانو قرباني شوي دي.

هغه زیاته کړې: «د انتخاباتي کمېسیونونو کمېشنران د معترضینو د ناسمو ادعاګانو قرباني شوي، په خواشینۍ سره چې لویې څارنوالۍ د اصلي مجرمینو په پېژندلو کې اشتباه کړې او وروسته پاتې شوې ده. موږ هیله کوو چې دغه قضیه دې بیا و ارزول شي او اسنادو ته دې پام وکړي، ځکه د تحقیق کمېټې لږه توجه کړې او موږ په دې اړه اسناد لویې څارنوالۍ ته ورکړي دي».

## الکوزی: د غبرګولي له لومړۍ وروسته د ولسمشر کار او ګمارنې ناقانونه دي

ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند محمد ابراهیم الکوزي ویلي، چې د روان کال د غبرګولي له لومړۍ نېټې وروسته د ولسمشر غني د کار دوام ناقانونه دی او د نوموړي د کار پای ته رسولو لپاره باید «ملي پاڅون» وشي.

هغه تېره ورځ په کابل کې د خبري کنفرانس پر مهال ولسمشر غني قومي، سمتي او ژبنیو اختلافونو ته پر لمن وهلو تورن کړی او ویلي یې دي، واک ته د نوموړي د رسېدو او ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې په هېواد کې ناامني زیاته شوې او هره ورځ سلګونه ځوانان په نه ختمېدونکې جګړه کې خپل ژوند له لاسه ورکوي.

نوموړي زیاته کړې، د یادو بدمرغیو د پای ته رسېدو لپاره اړتیا ده چې خلک سره یو شي او د اوسني ولسمشر د لرې کولو لپاره ملي پاڅون وکړي.

نوموړي پر دولتي پوستونو د نوو کسانو پر ګومارنې هم نیوکه کړې او زیاته کړې یې ده: «غني د ولسمشرۍ ټاکنو د نوماندانو پر اعتراضونو سربېره لا هم په دولتي ادارو کې د نوو کسانو ګومارلو او ګوښه کولو ته دوام ورکوي».

ولسمشرۍ ټاکنو ته دغه نوماند ویلي، اشرف غني دغه اقدامونه ملت ته د خیر رسونې لپاره نه، بلکې واک ته د رسېدو په موخه کړي دي.

هغه زیاته کړې، د ولسمشرۍ ټاکنو نوماندان د اشرف غني له خوا د ولسمشرۍ ټاکنو له مهندسۍ څخه جدي اندېښنه لري او لکه څرنګه چې لیدل کېږي د رڼو او عادلانه ټاکنو تر سره کېدل ناشوني دي.

الکوزي د ټاکنیزو کمېسیونونو اوسنیو غړو ته په اشارې ویلي: «تر فشارونو لاندې مه راځئ، هر کله چې دربانديې فشار واردېږي، د نوماندانو شورا ته راځئ او خپله خپلواکي وساتئ، ځکه افغانان تاسو ته ډېره هیله لري».

د ولسمشریزو ټاکنو دغه نوماند د ټاکنو له خپلواک کمېسیونه هم غوښتي، چې د مکتوب په لېږلو د محمد اشرف غني د ټیم د ناقانونه کمپاین د بندېدو غوښتنه وکړي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې چې د ولسمشر اشرف غني بهرنۍ سفرونه او د سترو هوکړه لیکونو لاسلیک ناقانونه دي او نوموړی د افغانستان د خلکو استازیتوب نه کوي.

نوموړي د نوماندانو اعتراضونو ته په اشارې ویلي: «که سړکونه بند کړو، ارګ مېشتي د کانټینرونو تر شا پټېږي او خلکو ته ستونزې پیدا کېږي، خو په هېڅ صورت اجازه نه ورکوو چې د اشرف غني تر مشرۍ لاندې ولسمشرۍ ټاکنې ترسره شي».

## امریکایي پوځ داسې تصویرونه خپاره کړي چې د ایران له خوا پر دوو ټانکري بېړیو د برید ادعا تاییدوي



د امریکا متحده ایالتونو یو ځل بیا تور لګولی، چې د عمان په خلیج کې پر یوې ناروېژۍ او یوې جاپانۍ بېړۍ بریدونه ایران کړي دي.

د امریکا پوځ تازه داسې تصویرونه خپاره کړي چې د ایران له خوا پر دوو ټانکري بېړیو د برید ادعا تاییدوي.

ډېری دا تصویرونه د امریکا د سمندري ځواک د یوه هلیکوپټر له خوا اخیستل شوي او ظاهراً ایراني پوځیان له یوې جاپانۍ بېړۍ د یوه ناچاودي ماین د ایستلو په حال کې ښيي، خو له دې ټولو سره سره ایران په دغه برید کې خپل لاس لرل رد کړي دي.

په ورته وخت کې پنټاګون اعلان کړی چې پر دغو بېړیو د برید له کبله منځني ختیځ ته زر تنه اضافي سرتېري استوي.

د امریکا سرپرست دفاع وزیر پاتریک شاناهان ویلي، دا سرتېري به د سمندري، هوايي او ځمکنیو ګواښونو پر وړاندې د دفاع دنده ولري.

منځني ختیځ ته د امریکایي نورو سرتېرو د استولو تر اعلان وروسته د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي، چې ایران له هېڅ هېواد سره د جګړې غوښتونکی نه دی.

روحاني په هغې وینا کې چې تېره ورّځ په ژوندۍ بڼه د ایران د دولتي ټلوېزیون له لارې خپرېده، ویلي چې د هېڅ هېواد پر ضد جګړه نه پیلوي او په خبره یې چې هغوی چې له موږ سره مخامخ دي، یوه ډله سیاستوال دي چې ډېره کمه تجربه لري.

هغه زیاته کړې، په سیمه کې د امریکایانو ټولې هغه هڅې او هیلې چې غواړي زموږ اړیکې له ټولې نړۍ سره وشلوي او ایران په انزوا کې وساتي، ناکامې شوې دي.

د تهران او واشنګټن ترمنځ د زیات شوي کړکېچ په ترځ کې ایران د امریکا د سایبري یا انټرنېټي جاسوسۍ شبکې په اړه چې وايي، نوې یې کشف کړې، ویلي چې د دې کشف په نتیجه کې یې په څو هېوادونو کې ځینې جاسوسان هم نیول شوي دي.

ایراني چارواکو ویلي، دا شبکه د امریکا د استخباراتو مرکزي ادارې CIA چلوله.

د دغه هېوادIRIB دولتي چینل د ایران د ملي امنیت د عالي شورا د منشي علي شمخاني له قوله لیکلي چې نوموړي ویلي، د ایران استخباراتي ادارو د سایبري جاسوسۍ ډېره پېچلې شبکه چې په بېلابېلو هېوادونو کې د CIA د عملیاتو لپاره مهمه وه، کشف کړې او ویجاړه کړې ده.

شمخاني ویلي چې ایراني چارواکو د دې شبکې په اړه له خپلو متحدانو څخه معلومات تر لاسه کړل او په نتیجه کې یې د CIA دا جاسوسان نیولي دي، خو امریکایي چارواکو د ایران د دغې ادعا په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
ژباړن: میراحمد یاد

### دولسم څپرکی
### موخې د ودې لپاره وکاروئ




د ځان جوړولو دېرش ورځنی لارښود
زه به سر له اوس نه ...
الف. دا خویونه پرېږدم: (وړاندیز شوي موارد)
١.	کارونه شاته اچول.
٢.	بدبیني او تریخ چلند.
٣.	د ورځې له یوه ساعته ډېر تلویزیون کتل.
٤.	غیبت.
ب. دا خویونه به خپلوم (وړاندیز شوي موراد)
١.	ظاهري حالت منظم ساتل.
٢.	هره شپه له ویده کېدو مخکې پلان جوړول.
٣.	په ټولو ممکنو مواردو کې د خلکو ستاینه کول.
ج. په دې توګه به په کارکوونکو کې خپل باور زیاتوم (وړاندیز شوي موارد)
١.	د خپلو مامورینو د ګټورتیا لوړولو لپاره به هڅې کوم.
٢.	د شرکت او نورو چارو په اړه به بشپړ معلومات پیدا کوم.
٣.	د شرکت د پرمختګ لپاره به پلان ورکوم.
د. په دې طریقه به خپلې کورنۍ ته لا ډېر پام کوم: (وړاندیز شوي موراد.)
١.	زما مېرمن چې کوم واړه کارونه کوي، که څه هم د هغې مسئولیت وي، زه به یې درناوی کوم.
٢.	اونۍ کې به یو ځل کورنۍ سره شخصي مجلسونو ته ځم.
٣.	د ورځې به یو ساعت یوازې کورنیو چارو ته ورکوم.
ه. خپلې مفکورې قوي کولو ته به له دې لارو کار اخلم: (وړاندیز شوي موارد)
١.	اونۍ کې به دوه ساعته خپلې مسلکي مجلې لولم.
٢.	د ځان منظمولو او جوړولو یو کتاب به لولم.
٣.	څلور نوي ملګري به پیدا کوم.
٤.	د ورځې به نیم ساعت یوازې د ځان په ارامۍ فکر کوم.

که منظم، ښایسته، متعادل او ښه فکر خاوند دې ولید، نو داسې فکر مه کوئ چې دا ګني همداسې زېږېدلی دی. د دې سړي ورځنیو او پرله پسې هڅو ترې دا شخص جوړ کړی دی. د نویو مثبتو خویونو خپلول او د زړو منفي خویونو پرېښودل، ورځنۍ پروسه ده. ځانته د پرمختګ دېرش ورځنی لارښود ترتیب کړئ.

موږ چې پر موخو غږېږو، نو زیاتره خلک وایي:
(موخو ته د رسېدو لپاره فعالیتونه پر خپل ځای مهم دي، خو زیاتره وخت داسې مسائل رامنځته شي چې د انسان ټول پلان ګډوډ کړي.)

ځینې داسې بهرني لاملونه شته چې د انسان په واک کې نه دي، پر دې سترګې نه شو پټولای. شدیدې ناروغۍ، د خپلوانو مرګ یا ځینې نورې ناڅاپې پېښې د انسان هڅې خرابولای شي.

نو دا ټکی یاد ساتئ چې: یوه لار کې ستونزه پیدا شوه، نو لاره بدله کړئ. که تاسې په لاره روان یئ او لاره بنده شوه، نو تاسې به څه کوئ؟ لاس تر زنې به کېنئ؟ نه کېنئ، بله لاره لټوئ. ځکه د یوې لارې بندېدل په دې مانا نه دي چې تاسې دې خپل منزل ته و نه رسېږئ. نو خپل منزل ته باید بله لاره ولټوئ.

تاسې د پوځي قومندانانو دا کار وګورئ. دوی چې یوې موخې ته د رسېدو لپاره اصلي پلان جوړوي، نو بل یا فرعي پلان هم ورسره وي. که چېرې کومه ناڅاپي پېښه یا لامل لومړی پلان خرابوي، نو دوی دویم پلان عملي کوي. تاسې چې الوتکه کې ناست یئ او یوه میدان کې الوتکې ته کېناستو اجازه ور نه کړل شي، نو تاسې اندېښنه نه کوئ، ځکه پوهېږئ پیلوټ ته ویل کېږي چې بل هوایي ډګر ته لاړ شئ او د دې کار لپاره اضافي تیل هم لري.

په نړۍ کې به داسې لږ خلک وي چې د منزل په لاره به یې داسې حالاتو کې لاره نه وي بدله کړې.

خو موږ که لاره بدلوو، دا په دې مانا نه ده چې موخې دې هم ورسره بدلې کړو. لاره بدلول یعنې منزل ته په بله لاره ورتګ.

زیاتره خلک دا زړه خوري چې: (کاشکې مې یو کال مخکې دا شی اخیستی وی، که مې اخیستی وی، اوس به یې راته دومره ګټه کړې وه.)

ځمکې، کاروبارونه او ونډې پانګونه ده، خو دومره مهمه پانګونه نه ده، ځکه مهمه پانګونه هغه ده چې په انسان وشي او په ځان پانګونه دا ده چې د ذهني قوت او مهارت لوړولو وسایل واخیستل شي.


شرکتونه پوهېږي چې پنځه کاله وروسته فعالیتونه یې د پنځو کالو وروسته پر اساس نه دي، بلکې د اوسنیو پانګونو پر اساس دي. ټولې ګټې له پانګونې ترلاسه کېږي.

موږ ټول باید په ژوند کې دا مهمه خبره زده کړو. که ګټه او مناسب عاید غواړو، نو پر ځان باید پانګونه وکړو او دا پانګونه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کوو.

**دوام لري...**

# هره ورځ غنیمت ده

اکسوس کتابپلورنځی




(هره ورځ غنیمت ده) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. دغه کتاب د امریکا د مخکیني رژیم د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي جان کیري سیاسي خاطرې دي.

جان کیري په یاد کتاب کې د خپل شخصي ژوند، زده کړو، پوځي خدمتونو، سیاسي ماموریتونو او په ټوله کې له امریکا او نړۍ سره یې د سیاسي اړیکو په اړه خپلې تجربې او نظریې شریکې کړې دي.

د سیاسي خاطرو لیکل د نړۍ د سیاسي تاریخ او فرهنګ د بډاینې یوه مهمه سرچینه بلل کېږي او مطالعه یې له اړوندو سیاسي تحولاتو سره د اشنایۍ او ناورین زېږوونکو پدیدو سره د مبارزې په برخه کې مرسته کولای شي.

دغه کتاب د ۲۰۱۸ زېږدیز کال په وروستیو کې چاپ او بازار ته وړاندې شو. له چاپ وروسته د اکسوس فرهنګي کمېټې د یاد کتاب محتوا، اهمیت او مؤثریت ته په کتو یې د ژباړې هوډ وکړ او په لږ وخت کې یې د خپلو همکارانو په مټ، په معیاري پښتو وژباړه. د دغه کتاب په ژباړه کې نورالحق حیدر، بسم الله مومند، حمیدالله همدرد، سید عبدالله ولیزي، نجات الله نواز، محبوب الهي او صدیق دقیق کار کړی دی. د کتاب بیا کتنه ښاغلي زبیر شفیقي کړې ده.

جان کیري د اوباما د دویمې دورې د بهرنیو چارو وزیر و، نوموړي پر نوره نړۍ سربېره، په افغانستان کې هم ډیپلوماټیک ماموریت درلود. په افغانستان کې پر نورو سیاسي مسایلو سربېره، د تېرو ولسمشریزو ټاکنو په طراحۍ او بیا یې د پایلو په اړه د یادو ټاکنو لپاره له ولاړو مخکښو کاندایدانو، ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله نانډرۍ او په پایله کې د جان کیري په منځګړیتوب، پر ملي یووالي حکومت د یادو مخکښو کاندیدانو جوړه، افغان ولس ته تر ټولو مهمه برخه ده. افغانستان ته د امریکې د بهرنیو چارو وزیر جان کیري راتګ او دلته د دوو نوماندانو پخلا کېدو، هغه وخت له ځان سره ډېرې پوښتنې رامنځ ته کړې. د ډېرو سیاسي چارو شنونکو په نظر، امریکا دغه کار د ځان په ګټه وکړ. دغه کار په افغانستان کې د امریکا پاتې کېدو زمینه مساعده کړه، ځو په سیاسي اړخ کې دوی راشي او وساطت وکړي.

ظاهراً افغانستان ته د کیري راتګ ته د پایلو پر سر نانندریو زمینه برابره کړه. ډاکټر عبدالله عبدالله د شکایتونو کمېسیون پر درغلۍ تورناوه. هغه ویل، په ځینو ولایتونو کې ډېرې رایې په درغلۍ کارېدلې دي، داسې چې هلته ښځې له کورونو نه راوځي؛ خو اوس یې رایې کارولې چې دا هغه ته هېڅ د منلو نه ده؛ خو سیال ټیم یې بیا پر اعلان شویو پایلو ټینګار کاوه.

په هر حال، جان کیري افغانستان ته راغی او دلته یې د ملي یووالي حکومت جوړکړ. معمولاً د ملي یووالي حکومت هغه وخت رامنځ ته کېږي، چې یو هېواد د تجزیې خوا ته لاړ شي او ستونزې رامنځ ته شي. هغه وخت افغانستان د تجزیې خوا ته نه و تللی. افغانستان په داسې حالت کې و چې څو د ګوتو په شمېر کسانو د موازي حکومت جوړېدو خبره کوله. د افغانستان ولس پر دې متفق دی چې باید یو موټی او متحد پاتې شي. نو د تجزیې ستونزه په افغانستان کې نه وه او که وه هم، د ځینو محدودو کسانو په ذهن کې به وه. خو په هر صورت، دلته د ملي یووالي حکومت جوړ شو، چې د اور لمبې یې له اولې ورځې تر نن ورځې د ملت ټپ ټپ او مات مات وجود سوځوي.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ١ | من سه نفر هستم | دکتر حسن شاهدی | ١٥٠؋ |
| ٢ | 365آداب رفتاری که بچه ها باید بدانند | شریل ابرلی آزیتا/ نجات مهر | ٥٠٠؋ |
| ٣ | 1001راه به سوی دانایی | فاطمه باغستانی | ١٨٠؋ |
| ٤ | 1001راه به سوی شادمانی | | ١٨٠؋ |
| ٥ | 1001راه به سوی رهبری | | ١٨٠؋ |
| ٦ | 1001را به سوی بصیرت | | ١٨٠؋ |
| ٧ | 1001راه به سوی سخاوت | | ١٨٠؋ |
| ٨ | تربیت جنسی کودکان | لیلا پور نعمتی/حمید رضا غیوری | ٢٠٠؋ |
| ٩ | تقویت وزیبایی موی نوزادان | مجید حاتمی ورزنه | ٩٠؋ |
| ١٠ | چون دوست د شمن است | سیمسن جعفر جلالی یزدی | ٢٠٠؋ |
| ١١ | چرا بچه های خوب نمره بد میگیرند | شقایق قندهاری | ١٥٠؋ |
| ١٢ | پنجاه پرسش که بچه ها زیاد می پرسند | دکتر سوزان بارتل | ٢٠٠؋ |
| ١٣ | 10گام برای فروش موفق | تیم برایت هایت | ٢٤٠؋ |
| ١٤ | آموزش توالت رفتن به کودکان | هیثرولفورد | ٥٠؋ |
| ١٥ | چگونه با ملل مختلف مذاکره کنیم | فرانک ال ایکاف | ٢٥٠؋ |
| ١٦ | خوشبخت بودن یاد گرفتنی است نه به دست آورنی | فرحناز میرقمی زاده | ١٥٠؋ |
| ١٧ | چگونه رفتارهای خوب رابه کودکم آموزش دهم | شمس الدین حسینی | ٤٢٢؋ |
| ١٨ | طالع بینی هندی ماه تولد شما | مژگان حایری | ٢٨٠؋ |
| ١٩ | آیا تو آن گمشده ام هستی | باربارا دی آنجلیس | ٣٥٠؋ |
| ٢٠ | گزیده سخنان گوته متن دوه زبانه | مجید محمدی | ٣٥٠؋ |
| ٢١ | رمز ارائه موفق | رسول خان امین | ١٥٠؋ |
| ٢٢ | جهشی به سوی پیشرفت | جان مکسول | ١٣٠؋ |
| ٢٣ | برادر ثروتمند خواهر ثزوتمند | رابرت کیوساکی | ٢٥٠؋ |
| ٢٤ | مهارت های زندگی زندگی | دکتر آرنولد لازاروس | ١٥٠؋ |
| ٢٥ | هره ورځ غنیمت ده | جان کیری /اکسوس د ژباړې بورډ | ٥٥٠؋ |
| ٢٦ | زندگی سفری زیبا و تامل برانگیز | لوییز ال هی | ١٣٠؋ |
| ٢٧ | خوشحاله ژوند ته غځېدلې لار | حیمیدالله حمیدی | ١٧٠؋ |
| ٢٨ | د اوبو رسولو انجینري | ایس سي رنګوالا | ٣٥٠؋ |
| ٢٩ | د کانکور لارښود د نیمه روغتیایی علومو لپاره | وحید الله فضلی | ١٥٠؋ |
| ٣٠ | د عریضه لیکنې لارښود | زاهدالله احمد | ٧٠؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ		اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۸۰ |
| € | ۹۰,٤۰ |
| Rp. | ٥۲٦ |
| ₹ | ۱۱٥۰ |
| ¥ | ۱۱,٥۰ |
| £ | ۱۰۰,٥۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# ځنګه کولای شو له کاري تجربې پرته ښه دنده پیدا کړو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ځنګه له کاري تجربې پرته دنده پیدا کړو؟
دا هغه پوښتنه ده، چې ډېری وخت د کار او دندې پلټونکو او په خاص ډول له پوهنتون او نورو ښوونیزو مرکزونو له نویو فارغ شوو محصلینو سره پیدا کېږي. دا چې د هرې دندې او کار اخیستو لپاره کاري تجربې ته اړتیا ده او له هغه پرته یې پیدا کول یوځه ستونزمن دي، دا پوښتنه پیدا کېږي چې نوي فارغ شوي محصلین باید څه وکړي؟ له کومه ځایه پیل وکړي؟
دا او دېته نورې هغې پوښتنې دي، چې موږ یې په اړه په دې مقاله کې پوره خبرې کړې دي.
تحصیلي رشتې معمولاً بېلابېلې کاري ساحې لري. په هره رشته کې چې مو زده کړې کړې دي، په هماغه کې د ځان لپاره کار پیدا کړی، هغه د ټولنې یو ضرورت دی او د هماغه ضرورت په اساس جوړه شوې ده، نو بناً هغه ته په ارزښت قایل شئ. د بېلګې په ډول، ځینې وایي، د انګلیسي ژبې د زده کړې په څېر زه څنګه کولای شم د خپلو تحصیلي اسنادو په واسطه دنده پیدا کړم؟ دا سمه ده چې ځینې رشتې لکه بانکي او حسابي د کار او دندې ښه بازار لري؛ خو دا په دې مانا نه ده چې تاسې د دندې اخیستو لپاره له نورو تحصیلي اسنادو ګټه نه شئ اخیستلای. د بېلګې په ډول، هغو کسانو چې د انګلیسي ژبې په څېر په نورو برخو کې یې زده کړې کړې دي، د ښو اړیکو له جوړولو، ښه تحلیلي تفکر او نوښت څخه چې په ډېرو کاري چاپېریالونو کې هغه ته تر هرڅه ډېر ارزښت ورکول کېږي، برخمن دي. ستاسې تحصیلي اسنادو ته په کتو، کولای شئ په هره برخه کې له حقوقو نیولې تر ورځپاڼې لیکلو، لیکوالۍ، تدریس او نورو برخو کې ستاسې د پرمختګ لپاره، بام ته د ختو لپاره د زینې په څېر، له تاسې سره مرسته وکړي.
دا په یاد لرئ چې هر کس د کار په لومړیو کې بې تجربې دی. نو پر دې اساس، تاسې یوازې هغه کس نه یاستئ، چې له پوهنتون او نورو اکاډمیکو زده کړو وروسته، د خپل تحصیلي مسیر په پیدا کولو کې ستړي او له فشار سره مخ یاستئ. دا پېښه طبیعي ده او د اندېښنې وړ خبره نه ده. له کاري تجربې پرته یوازې په تحصیلي اسنادو دنده پیدا کول به حتماً یوڅه ناامیدکوونکي وي؛ خو د سخت کار په کولو او زیات زحمت ایستو، غیرت او همت نه بایللو او پر نفس د پوره باور په واسطه کولای شئ خپل هدف (د دندې پیدا کول) ته ورسېږئ. موږ دلته هغو اوو ټکو ته اشاره کوو، چې له تاسې سره د دندې په پیدا کولو کې مرسته کوي:

**۱ـ هغسې چې یاستئ، ځان ومنئ!**

د یو شرکت یا سازمان د استخدام مسوول، ستاسې ژمنې او له کار سره مینې ته په کتو، تاسې ته کار سپاري. که تاسې د یو نسبتاً ټیټ کاري پوزیشن د پیدا کولو په لټه کې یاستئ، دا کار څه سخت نه دی. ځکه د داسې کارونو په پیدا کولو کې غوښتونکی کس چندانې د مسوولیت د اخیستو حس نه کوي. سربېره پر دې، تاسې خپله بې تجربه کاري ومنئ او له هغې د زده کړې لپاره د یوې انګېزې په څېر استفاده وکړئ. معمولاً په هر سازمان کې د استخدام مسوول د زحمت ایستونکو او له کار سره د مینې لرونکو کسانو د استخدام په لټه کې وي. نو پر دې اساس مو د تحصیلي رشتې او زده کړې پر ځای، له کار سره مینه، کنجکاوي او خپله ژمنه ښکاره کړئ.

**۲- خپل مهارتونه مو ښکاره کړئ!**

د خپلې خوښې وړ دندې پیدا کولو لپاره د اړینو مهارتونو فهرست مو برابر کړئ. ځینې مهارتونه لکه، کمپیوټري زده کړې، د انګلیسي ژبې زده کړه، خپل مسلک کې پوره پوهه، ښې ټولنیزې اړیکې او د ستونزو پر وخت د هغه د ژر حل او دېته ورته نورو هغو مهارتونو خپلول، هغه ځانګړنې دي چې هر سازمان کې ډېر ارزښت ورکول کېږي. که تاسې له دې یو یا ډېر نه لرئ، د پیدا کولو لپاره یې لاس په کار شئ.

**۳- د ځان او هغه کار چې تاسې یې تر سره کول غواړئ، د همغږۍ یو مزی جوړ کړئ!**

کله چې غواړئ د خپلې خوښې وړ یوې دندې ته اپلای وکړئ، باید له ځان سره داسې دلایل ولرئ، چې له مخې یې بیا د هغه له سرته رسولو ووځئ. د دې تحلیل لپاره وخت ځانګړی کړئ. ولې دا دنده ستاسې لپاره مناسبه ده؟ ایا داسې رسمي او غیر رسمي کاري تجربه او یا هم شخصي ځانګړنې لرئ، چې ستاسې او دغه دندې ترمنځ جوړجاړی وکړي؟ نوښتګر اوسئ او دا ځانګړنه له ځان سره ښه تحلیل کړئ. کله مو چې دا وړتیا خپله کړه، وروسته یې د استخدام مسوول ته هم توضیح کړئ.

**۴- یوازې پر خپلو وړتیاوو او مهارتونو تاکید وکړئ!**

کوم مهارتونه یا وړتیاوې لرئ، چې تاسې له نورو ځانګړي کوي؟ دا له یاده مه باسئ چې له خپلې دندې سره د مینې لرل، مسلکي کار کول، مسوولیت منل او خپلې دندې ته ژمن پاتې کېدل، له هغو ځانګړو مهارتونو دي، چې ستاسې پر استخدام مستقیم اغېز کوي.

**۵- خپل ارزښت مو وپېژنئ!**

د پوره کاري تجربې نه لرل هغه څه نه دي، چې تاسې د ارزښت له حد څخه راغورځوي یا مو ارزښت کموي. ایا داسې کوم ځانګړی مهارت یا ځانګړنه لرئ، چې کارفرما ته ستاسې ارزښت په ډاګه کړي؟ په هماغه برخه کې د کاري تجربې لرل فرض نه دي، که په کومه بله برخه کې کاري تجربه او یا هم مهارت او ځانګړنه لرئ، د استخدام مسوول ته یې وواياست.

**٦- پر خپل نفس د باور او کاري تجربې ترمنځ مو تعادل وساتئ!**

پر خپل نفس باور لرل ډېر مهم دي، خو له خاکسرۍ او تواضع سره باید مل وي. دا مه هېروئ چې تاسې اوسمهال یو بې تجربې کس یاستئ. خپل کارفرما ته دا وښیئ چې تاسې د خپل کار مسوولیت اخلئ او دا هم ښکاره کړئ، چې تاسې د زده کړې او یادګیرۍ مینه وال یاستئ او غواړئ چې ورځ تر بلې پیاوړي او بهتر شئ.

**۷- د خپلې مینې له مخې کار وکړئ!**

که نه شئ کولای چې دنده پیدا کړئ، بده نه ده چې د خپلې خوښې وړ برخه کې رایګان کار وکړئ. د خپلې مینې له مخې کار کول، کېدای شي د یوې مسوولیت اخیستونکې دندې په نسبت اسانه پیدا شي. د هغو کارونو په سرته رسولو کې چې ستاسې له وړتیاوو سره برابر دي، د خپلې خوښې له مخې په هغه کې ګډون وکړئ. له دې لار سربېره پردې چې تاسې به کاري تجربه خپله کړئ، کولای شئ د اړیکو یوه ښه شبکه هم جوړه کړئ او بیا له همدې لارې ځان ته کاري فرصتونه برابر کړئ.

## ټاکنو خپلواک کمېسیون: تر اوسه هېڅ سیاسي ګوند د رایې ورکوونکو د تقویتي نوملیکنې بهیر نه دی څارلی

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو د بهیر د څار او کتنې لپاره د تیارۍ خبر ورکړی او د څار د مهم ګڼلو تر څنګ یې ویلي، چې تر اوسه هېڅ سیاسي ګوند د نوملیکنې د بهیر څارنه نه ده کړې.
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې د روان کال د تلې په شپږمه تر سره شي او د رایې ورکوونکو تقویتي نوملیکنه د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د غبرګولي په ۱۸مه پیل شوې ده.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننګ تېره ورځ له سیاسي ګوندونو، مدني بنسټونو، د رسنیو له استازو، د ټاکنو د څار بنسټونو او نوماندانو له استازو سره د کمېسیون په ګډه ناسته کې ویلي، چې تر اوسه هېڅ سیاسي ګوند د تقویتي نوملیکنې له بهیره څارنه نه ده کړې.
نوموړي د څار بنسټونو، سیاسي ګوندونو او نورو له خوا د تقویتي نوملیکنې څار او کتنه مهمه بللې او زیاته کړې یې ده: «زموږ مسوولیت دی او موږ ژمنه کوو چې ستاسو د څار او کتنې لپاره به ټولې اسانتیاوې او فرصتونه رامنځته کړو».
نوموړي دغه راز زیاته کړې، نوماندان او رایې ورکوونکي هم مسوولیت لري چې د ټاکنو ټول بهیر وڅاري او موجوده ستونزې له کمېسیون سره شریکې کړي.
ننګ ویلي: «له ټولو هغو کسانو سره به جدي قانوني چلند وشي، چې د قانون خلاف کار تر سره کړي او لویې څارنوالۍ ته به ور وپېژندل شي».
هغه زیاته کړې، ټول هغه کسان چې غواړي د ټاکنو په بهیر کې د څارونکي او کتونکي دنده تر سره کړي، باید د باور لیک لپاره کمېسیون ته لاړ شي.
د ده په خبره، د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو پر مهال د څار په برخه کې زیاتې سرغړونې وې؛ خو په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې باید دغه ډول ستونزې نه وي.
د هغه په خبره، ټاکل شوې چې د دغه کمېسیون د ډېټابېس وړتیا د یو میلیون څارونکو او کتونکو لپاره د کارتونو د وېش په موخه لوړه شي. ننګ دغه راز ویلي، تر اوسه معلومه نه ده چې څومره کتونکو او څارونکو ته کارتونه وېشل کېږي.
بلخوا د ټاکنو کمېسیون د بهرنیو اړیکو رییس عبدالخبیر مومند په دې ناسته کې ویلي، د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې د نورو ستونزو تر څنګ، تخنیکي ستونزې لکه د انټرنېټ، ډېټابېس او نورو کمزورتیا موجوده وه، خو اوس د یادې ستونزې د حل لپاره لازم تدابیر نیول شوي دي.
نوموړي زیاته کړې، د اسانتیاوو د رامنځته کېدو لپاره څارونکو ته په انلاین بڼه هم کارتونه وېشل کېږي او تقاضا کوونکي کولای شي د خپلې اړتیا وړ اسناد له دې لارې کمېسیون ته واستوي.

## کډوالو چارو وزارت: په پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو له ډلې ۷۰ سلنه په دغه هېواد کې زیږېدلي دي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر ویلي، په پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو له ډلې ۷۰ سلنه یې په د هغه هېواد کې زیږېدلي دي.
د کډوالو چارو ادارو د معلوماتو له مخې، دا مهال په پاکستان کې شاوخوا درې میلیونه افغان کډوال ژوند کوي.
د کډوالو چارو وزیر سید حسین علمي بلخي ویلي، د یادو کډوالو د ستنېدو په صورت کې افغان حکومت مکلف دی، چې دوی ته د زده کړو او کار شرایط برابر کړي.
دا په ایران او پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو په اړه د افغان، پاکستاني، ایراني او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د چارواکو شپږمه غونډه وه.
په دغه غونډه کې تر ډېره له ایران او پاکستان څخه خپل هېواد ته د افغان کډوالو پر داوطلبانه ستنېدو، له کوربه هېوادونو سره په دې برخه کې پر مرستې او همغږۍ باندې خبرې شوې دي.
دوی همدارنګه له مرستندویه بنسټونو غوښتي چې افغانستان ته په داوطلبانه ډول له ستنېدونکو کډوالو سره د مرستې په برخه کې خپلې ژمنې عملي کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، د روان ۲۰۱۹ زیږدیز کال له پیله تر دې مهاله دوه لکه او درې زره افغان کډوال له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه افغانستان ته ستانه شوي دي.
د دغه وزارت ویاند رضا باهر له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې د راستنو شوو کډوالو زیاته برخه له ایران څخه دي.
نوموړي زیاته کړې چې په تېرو شپږو میاشتو کې له ایران څخه یو لک او ۸۲ زره کډوال راستانه شوي چې له ډلې یې یولک او ۸۱ زره یې په زور له هغه هېواد څخه ایستل شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د دغه وزارت چارواکو امریکا غږ ته وویل، چې پر ایران د امریکا اقتصادي بندیزونو او د بهرنیو اسعارو په وړاندې د ایراني تومن ټیټوالي په هغه هېواد کې د افغان کډوالو پر وضعیت ناوړه اغېز کړی دی.
یاده غونډه داسې مهال رابلل کېږي چې د روانې جون میاشتې په ۳۰مه، په پاکستان کې د افغان کډوالو د اوسېدو موده هم پای ته رسېږي.
خو د افغانستان د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر په ایران او پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو د شمېر زیاتوالي او د افغانستان امنیتي وضعیت ته په کتو، له کوربه هېوادونو څخه غوښتي چې د افغان کډوالو د اوسېدو موده وغځوي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې ورو سټي برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۹مه | دریم کال | ۳۹۰یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۶ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۱ |
| ۱۳ | ۱۹ | ۱۹ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۵ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیگر ۰۳:٤۱ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:۵۵

## نړۍ



# امریکايي پوځ داسې تصویرونه خپاره کړي چې د ایران له خوا پر دوو ټانکري بېړیو د برید ادعا تاییدوي

۳

## برشنا شرکت، برق نُه مقروض این شرکت به شمول برخی مقام‌ها را قطع کرده اند




شرکت برشنای افغانستان، لین‌های برق نُه تن به شمول برخی مقام‌های پیشین و بر حال دولت را که در کل، بیش از ۲۰ میلیون افغانی صرفیه برق را تحویل نکرده اند، قطع کرده‌است.
خالد ستانکزی رئیس تجارتی شرکت برشنا، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که این نُه تن، شامل الماس زاهد مشاور پیشین رئیس جمهور در امور انسجام ملی، حاجی مقیم برادر مارشال محمد قسیم فهیم سابق معاون اول رئیس جمهور، حاجی کرم شاه و برادرش از قوماندانان پیشین جهادی، انور خان اوریاخیل نماینده مردم کابل در ولسی جرگه، جنرال لطف‌الله قوماندان پیشینه امنیهٔ ولایت ننگرهار، پسر جنرال پناه یک تن از قوماندانان جهادی، عبدالواحد یک تن از زورمندان و نورحبیب گلبهاری قوماندان اسبق جهادی می‌باشد که منازل این نُه تن، در مناطق کارته پروان واقع ناحیه چهارم شهر کابل موقعیت دارد.
کارمندان ریاست برشنا در حالی لین‌های برق منازل این افراد را قطع کرده اند که پولیس قطعه واکنش سریع، آن ها را همراهی می کردند.
خالد ستانکزی گفته است: «ما از طریق رسانه‌ها و مکاتب، چند بار به سمع متخلفین رساندیم؛ اما آنها حرف‌های ما را نادیده گرفتند و ما امروز مجبور شدیم که برق آنها را قطع کنیم».
بر بنیاد فهرستی که در اختیار رسانه‌ها قرار داده شده، الماس زاهد نزدیک به پنج اعشاریه هشت میلیون افغانی، کرم شاه بیش از دو میلیون افغانی، حاجی مقیم نزدیک به یک اعشاریه چهار میلیون افغانی، انور خان اوریاخیل بیش از سه میلیون افغانی، لطف‌الله بیش از یک میلیون افغانی، نورحبیب گلبهاری بیش از یک میلیون افغانی، پسر جنرال پناه بیش از ۸۱۹ هزار افغانی و عبدالواحد بیش از پنج اعشاریه هفت میلیون افغانی، از بابت عدم پرداخت صرفیه چندین ساله برق مقروض شرکت برشنا می‌باشند.

## چین: امریکا دې پر ایران د زیاتو فشارونو له اچولو ډډه وکړي



د واشنګټن او تهران ترمنځ د پوځي شخړې د پېښېدو د اندېښنو په اوج کې، د چین حکومت امریکا ته خبرداری ورکړی چې پر ایران دې د زیات فشار اچولو له مېتودونو کار نه اخلي.
د چین د دولتي شورا مشر وانګ يي په بیجېنګ کې د سوریې د بهرنیو چارو له وزیر سره په خبرو کې دغه غوښتنه مطرح کړې دي.
هغه پر ایران هم غږ کړی چې د هغې هوکړې په چوکاټ کې باید عمل وکړي، چې له نړیوالو سره يې د خپلو اټومي هڅو په اړه کړې ده.
وانګ يي ویلي: «موږ پر ټولو خواوو غږ کوو چې زغم وکړي او داسې ګام دې نه پورته کوي، چې په سیمه کې کړکېچ زیات کړي».
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې له ایران سره د نړۍ د شپږو پیاوړو قدرتونو له شوي اټومي موافقې چې ایران یې د اقتصادي بندیزونو د کمېدو په بدل کې د اټومي پروګرام له پراختیا منع کاوه، ووت.
دا په داسې حال کې ده چې د ایران او امریکا ترمنځ له وروستیو ناندریو وروسته ایران هڅه کوي، چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه خپل ملاتړ زیات کړي او په همدې موخه یې لوړپوړو چارواکو ځینو هېوادونو ته سفرونه هم کړي دي.


## میشل پلاتیني د قطر په نړیوال جام کې د فساد لرلو په تور نیول شوی دی



د اروپا د فوټبال د فدراسیون یا یوفا پخوانی رییس میشل پلاتیني قطر ته د فوټبال د ۲۰۲۲ ز کال د نړیوال جام د کوربه توب ورکولو په فساد کې د لاس لرلو په تور نیول شوی دی.
میشل پلاتیني چې پخوا د فرانسې د فوټبال د ملي ټیم د مشهورو لوبغاړو څخه و، تېره ورځ د پاریس په یوه څنډه کې ونیول شو.
روسیې ته د ۲۰۱۸ ز کال او قطر ته د ۲۰۲۲ ز کال د فوټبال د نړیوال جام د کوربه توب د ورکولو د څرنګوالي په هکله پلټنې روانې دي او له دې وړاندې د فوټبال د نړیوال فدراسیون یا فیفا د پخواني رییس سپ بلاتر څخه هم په دې تړاو پلټنې شوې وې.
خو پلاتیني په مشخصه توګه قطر ته د ۲۰۲۲ ز کال د فوټبال د نړیوال جام د کوربه توب په اړوند تر پوښتنې لاندې راغلی و. سپ بلاتر کله چې لا د فیفا رییس و، پلاتیني یې په دې تورن کړی و چې د امریکا متحده ایالتونو ته یې د ۲۰۲۲ ز کال د فوټبال د نړیوال جام کوربه توب ته په رای ورکولو کې خپله ژمنه ماته کړې ده.
هغه په ۲۰۱۵ ز کال کې د اسوشیټېډ پرېس اژانس ته ویلي وو، پلاتیني سره له دې چې د متحده ایالتونو کوربه توب ته د رای ورکولو ژمنه کړې وه، خو د فرانسې د پخواني جمهور رییس نیکولاس سارکوزي او د قطر د شهزاده په ګډون له غونډې وروسته یې خپل نظر بدل کړ، خو پلاتیني دغه تور رد کړی. هغه له دې غونډې دوې اونۍ وروسته ویلي: «سارکوزي هېڅکله هم له ما ونه غوښتل چې د قطر په ګټه رایه ورکړم».

## ژوند

## د بوتلونو ګرمې شوې اوبه روغتیا ته زیان اړوي




که په موټرو کې له ځان سره په بوتلونو کې اوبه لرئ، مه يې څښئ؛ ځکه چې روغتیا ته زیان لري. په دغو بوتلونو کې اوبه د ګرمۍ له کبله ګرمېږي او د انسان روغتیا ته جدي زیان اړولی شي. په دغه حالت کې د اوبو د حرارت درجه تر ۷۰ سانتي ګراده لوړېږي او د یاد بوتل پلاستیکي مواد چې په ترکیب کې کیمیاوي مواد لري، د ګرمۍ له امله له اوبو سره ګډېږي او اوبه زهري کوي چې بیا وروسته انسان ته د ښځبلو پر مهال زیان اړوي. که چېرې له موټره بهر د حرارت درجه له ۴۰ تر ۴۵ پورې وي، نو د موټر په داخل کې به د حرارت درجه له ٦۰ تر ۷۵ پورې وي. د دې لپاره چې بوتلونه خراب نه شي، د هغو د جوړولو لپاره یو ډول مواد چې (Polyethylene terephthalate) نومېږي، استعمالېږي او دغه مواد (پي. پي. او. ای) د ګرمۍ له کبله له اوبو سره ګډېږي، کله چې په اوبو کې حل او بیا وڅښل شي، د انسان صحت ته زیان اړوي.

## مینه او ارزښت يې



مینه په خپل ذات کې ډېره ارزښتناکه ده، مقصد او موخه نه لري، خو اغېز يې دومره زيات دی چې پر سړي باندې يوه ځانګړې خوښي راولي. دغه څه د مینې مقصد او موخه نه دي؛ ځکه مینه سوداګري نه ده چې ګټه او تاوان دې پکې وي. دا مه هېروئ چې که په ژوند کې موخه ولرو او له مهالوېش سره سم ژوند وکړو، لري به نه وي چې په ډېرې اسانۍ له هغو ستونزو ځان وباسو چې ورسره مخ کېږو. ژوند د خدای ج یوه په زړه پورې ډالۍ ده. ژوند هغه خاوره ده چې ګلونه پکې را ټوکېږي. د ښه ژوند لپاره بیا مینه تر ټولو اړینه ده؛ ځکه همدا مینه ده چې په وسیله يې ژوند په اسانۍ سره پر مخ تللای شي.
دا هم مه هېروئ چې زموږ ژوند په اوس پورې تړلی؛ په نن کې ژوند وکړئ او ژوند یو غنیمت وګڼئ.
څه چې په ژوند کې ډېر اړین او مهم دي، هغه زموږ او ستاسو لیدلوری دی. څه ډول چې فکر کوئ، ژوند به مو په هماغه ډول مخې ته ځي، نو ښه ده چې تل مثبت فکر وکړو او ژوند ته په ښه سترګه وګورو.